TPM Vol. 32, No.1, 2025
ISSN: 1972-6325
https://www.tpmap.org/

Open Access

# AN ANALYSIS OF THE WAR IN PAKHTUNKHWA IN THE CONTEXT OF TAPPA

DR SYED ZAFAR ULLAH BAKHSHALI[1], DR NOOR UL BASAR AMAN[2]

[1]ASSISTANT PROFESSOR DEPARTMENT OF PASHTO AWKUM, zafarbakhshali@awkum.edu.pk
[2]ASSISTANT PROFESSOR DEPARTMENT OF PASHTO UOM, dr.aman@uom.edu.pk

**ABSTRACT**
"My Eid will be the day the smoke of gunpowder disappears from the land."
Pashto folk literature has a long and rich history. It consists of many distinct genres, such as Charbeta, Tappa, proverbs, Qissa, Neemki, Bagti, Allahu, Da Mashumano Sandari, Ghara, Sanda, Khairi, Dua, Kakari, and Da Marwato Kasruna.
Among these, the Tappa is unique. Although it consists of only two short lines, those lines hold an ocean of meaning, philosophy, and knowledge. Tappas cover an incredible breadth of topics; there is almost no subject that has not been addressed within them.
For a long time, the clouds of war have loomed over Pakhtunkhwa in various forms. These conditions have weakened the Pashtun people and left them psychologically scarred. Consequently, Pashtun literature—and the Tappa in particular—has been heavily influenced by these war-torn conditions.
For example, consider these Tappas"No one used to see their faces, but now they walk the Torkham road without their shawls." The world is made beautiful by peace, but nations are destroyed by evil and corruption. "Her beloved was martyred in the bombing. Now, she watches the village road, waiting for a return that will never come."

زما به هغه ورح اختر وي          چې د بارودو لوګے ورک له ملکه شینه

د پښتو اولسي ادب ډېر زوړ تاريخ لري دا په ډېرو مختلفو اصنافو مشتمل دے د مثال په توګه چاربېته،ټپه،متلونه،قيصی،دوړې،نيمکی،بګتی،الاهو ،دماشومانوسندرې،غاړې،ساندې،خېرې،دعاګانې، کاکړی، د مروتو کسرونه او دغه شان نور ډېر د يادونې وړ دي1- په دې ټولو اصنافو کښې ټپه يو داسې صنف دے چې په ظاهره خو دوه وړې شان جملې وي خو دا وړې جملې په خپل ځان کښې د معنې،مفهوم،علم،پوهې او فلسفې په لحاظ سمندر وي - د فن او فکر سره سره د موضوعاتوپه لحاظ هم په ټپه کښې ډېره تنوع او فراختيا موجوده ده - داسې موضوعات به د نښت برابر وي چې په هغې به ټپه نۀ وي وئېلې شوي -

د ډېر وخت نه په پښتونخوا کښې د جنګ وريځې په مختلفو شکلونو کښې اوړې را اوړي ،دې حالاتو پښتانۀ په هر لحاظ ډېر کمزوري او نفسياتي رنځوران کړي دي -دغه وجه ده چې په پښتو ادب د دې جنګ زده حالاتو ډېر اثر شوے دے او د پښتنو د ادب يوه اهمه موضوع جنګ هم ګرځېدلې ده - په خصوصي توګه په ټپه کښې د دې جنګ چې کومه تصوير کشي شوې ده هغه ډېره د پام وړ ده -

"د نفسياتو په وسيله د ادب مطالعه کونکي پوهيږي د چاپېريال اثرات په يوه هنري ټوټه کښې زيات جوت وي چې د خلکو د ذهنونو د ارتقاء معيار د تاريخ او تمدن لرغنتوب يې په ښۀ توګه ورڅخه درکېدلې شي"2

په جنګونو کښې د کډوالی تصوير کشي چې په کوم انداز کښې شوې ده - د مثال په توګه دا لاندې ټپې دلته وړاندې کولې شي -

ښۀ ده چې زړۀ  د طورخم نۀ چوي          چې پښتانۀ پرې کډې ښکته پورته وړينه
چا يې پلو لېدلې نۀ وۀ          اوس د طور خم په لاره ځي سر تور سرونه
دنيا په امن ښائسته کيږي          په شر فساد باندې ورانيږي وطنونه
يار يې چاودنه کښې شهيد شو          جينی د کلي لار ځاري  چې را به شينه

اولسي ادب د يوې ژبې او ادب په پرمختګ کښې د ملا د تير حېثيت لري -پښتو ژبه په اولسي ادب ډېر غني ده - د اصنافو او موضوعاتو په لحاظ د پښتو اولسي ادب ډېره خوره وره لمن لري - هسې خو د اولسي ادب اصناف زيات دي خو د دې ټولو اصنافو سر خېله " ټپه" ده - ټپې ته نور هم خو نومونه لکه مصرعه،لنډۍ ټکی وغېره وئيلي شوي دي خو ټپه ډېر عام نوم دے - ټپه د هئيت په لحاظ دوه مصرعې لري چې يو وړه د نهه سپلابونو او دويمه اوږده د ديارلس سپلابونو وي چې دواړه د وويشت سپلابونو جوړيږي  او دا د ټپې د ټولو نه لويه پېژنګلو، پيمائش او خصوصيت دے -

د فن او فکر سره سره د موضوعاتوپه لحاظ هم په ټپه کښې ډېره تنوع او فراختيا موجوده ده  په ټپه کښې د ژوند او مرګ سره تړلې هر قسمه موضوعات ذکر شوي دي -د پښتنو په خاوره ترډېره وخته د جنګ صورتحال روان دے د دې وجې نه چې ادب د ژوند ترجمان دے نو ټپې د دغې جنګ ډېره ښۀ ترجماني کړې ده -

"په دې کښې د پښتنو د معاشرې او تهذيب و تمدن دومره عکاسي شوې ده چې په مشکله به يو اړخ هم داسې نۀ وي چې په هغې به په څۀ نا څۀ انداز کښې رڼا نۀ وي اچولے شوې - تر دې چې کۀ کوشش او زيار اوکړے شي نو يواځې د ټپې نه د پښتون د تهذيب او تمدن او ثقافت يو مکمل تاريخ سازيدے شي -" 3

په ټولنه کښې اوسيدونکي خلق به په لازمي توګه د يو بل نه متاثره کيږي ځکه چې دا ځانګړي عملونه په مشترکه عملونو کښې ضم کيږي چې اثرات يې په ډېرو انسانانو باندې پريوځي - نن دنيا د يو نړيوال کلي شکل اختيار کړے دے په دې کښې خو اثرات د وځو په حساب د يو ځاے نه بل ځاے نه منتقل کيږي - په پښتونخوا کښې چې کوم جنګونه د ډېر وخت نه راروان دي نو لازمي خبره ده چې د دې اثرات به هم په ټولنه کيږي او دغه اثرات به

عموماً په ادب او خصوصاً په اولسي ادب کښې منعکس کيږي چې ښکاره مثال يې "ټپه" ده ـ "د تحقيق له رويه دا ثابته ده چې د فرد په کردار د ګڼو خلقو يا افرادو مجموعي اثر مرتب کيږي"4

په پښتونخوا کښې د ډېر وخت نه په مختلفو شکلونو کښې د جنګ او نفرت وريځې خورې دي ـ د دې حالاتو په مقابله کښې د نورو اصنافو سره ټپې هم د " امن " اواز اوچت کړې دے ـ د نورو اصنافو په نسبت چې په ټپه کښې څنګه نبغه په نيغه،تشبيهاتو،استعاراتو يا په علامتي انداز کښې څنګه بيان شوے دے نو دا ډېر زړهٔ راښکون لري په دې وجه په ژبه او غوږونو ښهٔ لګي ـ بله دا چې ټپه يو خالص اولسي او عوامي صنف دے په دې وجه هر چا ته قابل قبول هم دے ـ په دې ټپه کښې څومره په ښکلي انداز کښې د امن غوښتنه او د فساد غندنه شوې ده:

دنيا په امن ښائسته کيږي
په شر فساد باندې ورانيږي وطنونه

د پښتو په اولسي ادب کښې چې ټپې ته کوم اهميت ،عقيدت، مشهورتيا او زړهٔ راښکون حاصل دے شايد کهٔ د دنيا بل يو صنف ته حاصل وي ـ د دې اهميت به نور هم ډېر وجوهات وي خو يو داهم دے چې د ټپې تخليق فطرتي طور دومره چست ، روان،ساده او عام فهم شوے دے چې اړومرو يې په خلقو ځان منلي دے ـ

د ټپې د تاريخ په حواله هم متضاد رائے دي ،يوه دا ده چې ټپه تقريباً پينځهٔ زره کاله زړه ده او وئيلې کيږي چې دا وړومبۍ ټپه ده:

سپوږميه کړنګ وهه راخېژه
يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

په دې ټپه کښې هم علامتي طور د جنګ بندۍ حميت او د جنګ مزاحمت شوے دے ـ

په باغ کښې مهٔ وولېه کونترې
يوه به مړه شي بيا به نهٔ راځي سېلونه

د انسان سره دجنګ ملګرتيا د انساني ټولنې د وجود موندنې سره سمه راروانه ده ـ جنګ په انساني ژوند کښې د روزمره پېښو په شان په مختلفو شکلونو کښې واقع شوے دے ـ د تاريخي شواهدو په بنياد د انساني ژوند په دېرش زره او پينځهٔ سوه کاله تاريخي بهير کښې تقريباً دوه سوه اواويا کاله د جنګ نه بغېر تېر شوي دي ـ په دې خبره کښې پوهان لابند دي چې د جنګ موده دومره ولې غزېدلے او د امن لنډه ده ـ کېدے شي چې د دې دا وجه وي چې جنګونه سياسي، اقتصادي او نورې ډېرې وجې هم لري ـ 5

هسې خو په پښتونخوا د ډېر وخت نه د غم لړې راخورې دي او کهٔ مونږ پښتو ادبياتو ته ځير شو نو دغه شر و شور ،دغه درد او غم پکښې د ډېر وخت نه راروان دے ـ خوشحال خان خټک په يو شعر کښې دا شر او شور د ځان دپاره ياد کړے دے خو دا د ټولې پښتونخوا شريک ميراث دے چې د هغې وخت نه مسلسل راروان دے:

لا يو شور راځينے لاړ نهٔ وي بل راشي
دا چې زهٔ پيدا په ورځ د شور و شر يم
(خوشحال بابا)

په پښتونخوا باندې چې په کوم وخت کښې هم کوم غاصب ګر راغلي دي نو د خپل ظلم داستانونه يې پرېښي دي چې يو پکښې د مغلو ظلم هم دے او دا ظلم په پښتو ادب کښې د "مغلوالې " د تلميح په طور راروان دے او دا اوس د ظلم استعاره جوړه شوې ده ـ نور خو پرېږده چې د رحمان بابا په شان ترک دنيا انسان هم د مغلو ظلم په دومره درد ناکه پېرايه کښې بيان کړے دے:

په سبب د ظالـمانو حاکمانو
ګور او اور او پېښور درې واړه يو دي6

د شاعرۍ د اهميت او ښائست د نورو اړخونو سره سره يو دا هم دے چې دا کهٔ په هر وخت کښې تخليق شي خو دا د ټولو وختونو نمائندګي کوي ـ د ظالمانو حاکمانو کوم ظلم ته چې رحمان بابا اشاره کړے ده نو دا په اصل کښې د مغل حکمرانانو ظلم يادوي ـ

پښتونخوا د خپلې اهمې جغرافيې په وجه په هر دور کښې د حمله اورو او غاصبګرو د ولقې لاندې پاتې شوې ده ـ هر چا په هر وخت کښې د خپلو ذاتي ،مفاداتو او مقاصدو د پاره دا زمکه او د دې د خلقو استحصال کړے دے ـ بيا په تېره تېره تقريباً د نيمې صدۍ نه چې د جنګ او فساد کوم اور په دې خاوره لګېدلے دے دې حالاتو دلته داسې کانې وکړې چې شايد په تاريخ کښې چرته شوي وي ـ د لالونو او خزانو په دې وطن کښې د بارودو داسې بارانونه وشو چې د دې کانې بوټې يې شهېدان کړل،دلته د ګلونو جنازې اوچتې شوې ،دلته د فرض مونځونو نه زيات فرضِ کفايه مونځونه ادا شو ـ دلته د ښادو نه زيات د غمونو دستورونه وشول ـ د دنيا په تاريخ کښې به نهٔ دومره زياتو خلقو د جنګ د وجې نه هجرت کړې وي او نهٔ به دومره زيات وخت د خپل وطن نه په پردي وطن مېشته شوي وي ـ د دنيا په تاريخ کښې به داسې چرته هم نهٔ وي شوي چې څوک د جهاز د پاسه او يا د جهاز په وزرو پورې انخښتي وي او د جنګ زده وطن نه په تېښته مجبور شوي وي او دنيا دغه تماشه هم ولېده چې افغانان د لس زره فټه اوچتوالي نه د روان جهان نه ښکته سر دلاندې راغوزار شو ـ او دنيا پرې داسې پېشاړه وکړه چې د دغې الميې تصويرونه يې په شرټونو ولګول ـ او دا يې لا څهٔ کوئ چې د پښتونخوا په کوڅوکښې څوک روان وي د انسانانو شهيدانو نه علاوه به ورته بې جان څېزونه هم شهيدان ښکاري او داسې تصوير به پېش کوي:

" د پښتونخوا وطن مقبره د شهيدانو ډکه،مقبره د شهيد په نوم ،زيارت د شهيد په نوم،مدرسه د شهيد په نوم ،جومات د شهيد په نوم،مکتب د شهيد په نوم،پوهنتون د شهيد په نوم،کالج او سکول د شهيد په نوم،هسپتالد شهيد په نوم،سړک د شهيد په نوم،چوک د شهيد په نوم،انټر چينج د شهيد په نوم،ميدان د شهيد په نوم،لوبه د شهيد په نوم،کتابتون د شهيد په نوم، لاره د شهيد په نوم، کوڅه د شيد په نوم، جنازګاه د شهيد په نوم، هوټل د شهيد په نوم ،پارک د شهيد په نوم، پلازه د شهيد په نوم، مارکيټ د شهيد په نوم، دکان د شهيد په نوم ، پل د شهيد په نوم ، کلے د شهيد په نوم ، کور د شهيد په نوم ، رساله د شهيد په نوم ، اخبار د شهيد په نوم ، کتاب د شهيد په نوم ، يادګار د شهيد په نوم ، غر د شهيد په نوم ، درنګ د شهيد په نوم او داسې پسې څه " 7.

دغه تصوير کهٔ بيا مونږ په ټپه کښې لټوو نو څې داسې پکښې لېدے شي:

د لښکرونو ملک ته وايه
په مړو موړ شوې کهٔ لا نور کوې جنګونه
جانانه هلته دې خداے مل شه
چې د ټوپکو له خولو خېژي شهٔ دودونه8

د جنګ موضوع ډېره سخته او خشکه ده خو ټپه مجبوره ده چې دغه سخته موضوع هم په خپله نرمه نازکه او لهجه کښې ځاے کړي او د خپل قوم نمائندګي وکړي ـ

موري پښتون له مې ور نۀ کړې
پردي جنګونه په سر اخلي مړ به شينه
د سر زورۍ انجام دې ولېد
د لښکر مخکښې مخکښې تلے کونډه دې کړمه
امانتي مې ګور کښې کېږدۍ
چې صلح راشي مابه خپل وطن ته وړينه
د جنګ پرستو زور اوبۀ شه
د ژوند پرستو هیلي دوي وژلي دينه
خبرې به ولې درته نۀ کړم -
توره ټوپکه ورانوې ودان کورونه
خدايه ټوپک ذرې ذرې کړے
د پښتنو تور سرې کونډې ناستې دينه
د جنګ اغېزې دومره زياتې شوي دي چې کۀ يوطرف ته په پښتو ژبه او ادب کښې جنګي نومونه او اصطلاحات رادننه شوي دي نو بل طرف ته د مينې غونډې نازک علامتونو د پاره هم د جنګ سختې او خطرناکې وسلې ذکر شوي دي - لکه په دې ټه کښې چې د ډرون،حمله،طالب وغېره ذکر شوے دے -
سترګې دې نۀ دي ډرون حملې دي
درته طالب طالب کېدم شهيد دې کړمه9
" "جنګ " او " سوله " له انسانانو له ژوند سره سم راروان هغه دوه متضاد بهيرونه دي چې يو د بل په مقابل کښې ولاړ دي -کله چې کومه انساني ټولنه د ينو عواملو له امله له جنګونو او جګړو سره مخامخ کيږي - نو ورسره جوخت د سولې د تامين په اړه د فکر کولو اړتيا احساسيږي او په جنګ اخته ټولنې سوله دوست انسانان د انسانانو د ژغورنې لپاره يو لړ داسې لارې چارې لټوي چې د هغوي په پلي کولو سره په ټولنه کې د جګړې عوامل له منځه يوسي - پر ځای يې سوله ټېنګه او د ټولنيز ژوند د پرمختګ لپاره لاره اواره کړي او په دې توګه د ژوند د بهير په لار کې پراتۀ خنډونه او خنډونه له منځه ولاړ شي.10 "
بس دے پردي جنګ نه قلار شه
په ناويتوب کښې به مې کونډه کړې مئينه
سوله به وران وطن کښې راشي
د خاورو لاندې ځوانان بېرته نۀ راځينه
د نفرتونو دې کور وران شي
د مينې کور دې تر قيامته پورې وينه
پښتانۀ ، وېښ ، مست او ژوند پرست خلق دي په هر حالت کښې ژوند کوي او ژوند له غاړه ورکوي ،د دومره اوږد او نۀ ختميدونکي جنګ په ضد په هر وخت کښې د امن غږ پورته کوي او دا اميد ساتي چې په پښتونخوا به يو ځل امن راشي او دلته به د سکون او ارام ژوند پېل شي - چې امن وي نو بيا د ژوند ټوله تنه بوده پخپله سمه شي - ټول حساسه او زيرک پښتانۀ دغې زېري ته غوږ غوږ دي:
امن د خبره سره راغے
د ملا لور ټپې کوي ګودر له ځينه
که چا د امن زېرے راوړ
زه به په زېري کې خولګۍ ترې ځاروومه
هسې خو په پښتو ټپو کښې د ذاتي جنګونو ، د کورنيو شخړو،د مغلو د زور او ظلم ، د انګريزانو سره د جنګونو ،د هندوستان سره د تاو تريخوالي واقعيات،د افغان جنګ اثرات او د نائن الېون د واقعې نه ورستو هر وخت د جنګ وريځې تاويدلو ذکر موجود دے - دلته چې کومې ټپې وړاندې شوې نو د جنګ په موضوع دا په وړو کښې د مالګې برابر هم نۀ دي داسې په زرګوونو ټپې موجود دي چې د بي ايس ، ايم فل او پي ايچ ډي څېړنو ته اړتيا لري -
نتيجه:
په دې مقاله کښې چې د جنګ کومې ټپې تجزيه شوي دي د هغې په تناظر کښې د پښتونخوا د جنګ يوه پراخه نقشه په ټپه کښې موجود ده - د دې د مطالعې دا اندا کيږي چې په پښتونخوا کښې په هر دور کښې په څۀ نه څۀ شکل کښې جنګ شوے دے - او د تېرو څو لسيزو نه دلته کښې جنګ پنجې ښخې کړي دي ،او وخت په وخت نوم او شکل بدلوي - دغه وجه ده چې په ټپه کښې کۀ يو طرف ته د جنګ ذکر په مختلفو زاويو، کنايو ،اشارو او علامتونو کښې شوے دے نو بل طرف ته نبغ په بغه هم شوے دے - د دې نقصانات او د دې نه پيدا شوي نفرتونه هم په ګوته کړې شوي دي - د دې نه علاوه دا هم څرګنديږي چې پښتنو دومره ډېر وخت په جنګ کښې تېر کړو او دومره ستړي شو چې اوس د جنګ نه بيخي تنګ دے او د امن په ارمان دي -

حوالې

[1] شاه جهان "پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه" پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون،۱۹۹۳، ص:۳۸
[2] زهير عصمت الله"ادب ،سياست او امن" پښتانۀ مترقي ليکوال ،جنوبي پښتونخوا کوټه،۲۰۱۹ء،مخ ۱۴
[3] داود،داور خان "پښتو ټپه" يونيورسټي بک ايجنسي پېښور،۱۹۷۸، مخ ۲۰
[4] سلمیٰ شاهين "روهي سندرې" دويم جلد،پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون،۱۹۹۴ء ،مخ۱۴
[5] شمسزی ،عزت الله "پر پښتو شعر د جنګ اغېزې" د افغانستان د بشر حقونو د خپلواک کمېسون ، ۱۳۹۱،مخ ۸
[6] عبدالرحمان بابا " د رحمان بابا کليات" تحقيق،ترتيب او سمنه ، دوست ممد خان کاملمومند او قلندر مومند، افغان پرنټرز کابل، ۱۹۸۳،مخ ۲۶۳
[7] نورالبصر امن مجله " ليکوال" پېښور شا پانه ،

[8] غروال ،ځېرنوال محمد عارف " په پښتو ادب کښې د سولې انعکاس " د ژبو او ادبیاتو مرکز ،د افغانستان د علومو اکاډمي ، ۱۳۸۸کال ، مخ ۳۸ -

[9] قلميا،روشن شاه"پښتون او عسکريت پسندي اسباب و حل" ادبي ملګري ارباب لنډۍ پېښور،۲۰۱۴ء،مخ۴۴

[10] غروال ،ځېرنوال محمد عارف " په پښتو ادب کښې د سولې انعکاس " د ژبو او ادبیاتو مرکز ،د افغانستان د علومو اکاډمي ، ۱۳۸۸کال ، مخ ر -